# خپلي ملي ادبي پانګي له لاسه مه باسئ

هره ژبه ځانته یوه ادبي او لغوي پانګه لري، چي په هغه سره بډايه ګڼله کيږي، او دغه پانګه ده چي ژبي ژوندۍ ساتي، او د ادب او علم پر ډګر ئې له نورو سره سموي، یوه ژبه چي خپله ادبي او لغوي پانګه نه لري، هغې ژبي ته بشپړه ژبه نه سو ويلای.

زموږ خوږه او سپېڅلي ملي ژبه خو هم ځانته ادبي پانګي لري، او د لغاتو او کلماتو له ډېرښته خورا بډايه ژبه ده، او ډېر نادر لغتونه موږ لرو. چي نوري ژبي په هغو کښي د پښتو سره سيالي نه سي کولای.

مګر انسانان چي د بل تر اقتدار او واکدارۍ لاندي سي البته خپل مزايا له لاسه ځيني وزي، او د پردو اغېزي دوی داسي پړوي چي په هر شي کښي د هغو واکمنو پردو تقليد کاندي، او خپلي ښېګڼي ځيني هيري وي.

ژبه هم دغسي ده، هره ژبه چي د نورو ژبو تر اقتدار لاندي راغله، نو وګڼه چي خپله ټوله ادبي مزايا ئې بايلووه، او په پردو نيمګړو ښېګڼو به وياړي، او خپل پانګي به ئې له لاسه ووزي. په دې کرښو کښي زه غواړم چي له دغه پلوه پر پښتو باندي څېړنه وکړم، او خپل ګران پښتانه او ليکونکي يوې ضروري نکتې ته ملتفت کم.

زموږ د ملي ژبي سره دا څو پېړۍ پرله پسې ډېري ناوړي سوي دي خوارکۍ ډېره مظلومه او شکولې سوې ده.

نوري ژبې د مشرانو په کورو کښې وې، په مدنيت کښې داخلې سوې، قلم د دوی د ويونکو په لاس کښې وُ، هغه پښتو کلمات او لغات چې د دې مځکې په هره خوا کښې مشهور وه، ورو ورو د اجتماع او مدنيت څخه وايستل سوه، په غرو او رغو کښې مهجور پاته سوه، يا مړه او ورک سوه.

د مثال په ډول وايم : که موږ د غزنوي اثر ليک سوي آثار وګورو، نو به د پښتو د ډېرو کلماتو ژوندون رامعلوم سي، چې وروسته مهجور سوي دي :

کوټ په پښتو کلا (قلعه) بولي، دا کلمه پښتنو خپلو مستعمراتو ته هم ورسره وړې وه، په پښتونخوا او هند کې اوس هم سته، پخوا مشهوره کلمه وه، کوټ وال يعنی قلعه بيګی چې اوس د پوليسو مشر ته وايي، پښتو کلمه ده چې دا زر کاله ژوندۍ وه د سلطان محمود په عصر کښې موږ دا کلمه ژوندۍ وينو. (۱)

کټاره په پښتو چاړه يا خنجر ته وايي تر اوسه هم په غرو کښې ژوندۍ کلمه ده، خوشحال خان خټک وايي :

دوه دي سترګې دي کټاري
تل په لاس تېرې کـــــټاري

دا کلمه په غزنوي دوره کښې نهه سوه کاله دمخه له پښتو څخه په پارسو ژبه کښې داخله او ژوندۍ وه ګرديزي ئې ډېره راوړې (۲) دغسې هم (چاروا) د حيوان په معنی پخوانو له پښتو (څاورې) څخه مفرسه کړې وه، منهاج سراج جوزجانی دا کلمه ډېره ليکې (۳) په دې ډول ډېرې پښتو کلمې پخوا ژوندۍ وې چې اوس مهجورې په غرو کښې له مدنيته ليرې پرتې او ورکې دي.

له ډېره وخته د پارسو ژبې د ادبي اقتدار او تسلط له لامله يو د تفريس او تفرس احساس هم په ليکونکو کښې مينده سوئ دئ، دوی کوښښ کوي چې د پښتو ژبې کره او يوازيني ځانته کلمات



پارسو يا عربي کړي، موږ د پښتو په اسماء الرجال و الاماکن و القبايل کښې ډېر داسې نومونه وينو، مثلاً : سدو او پوپل او امران، سهک، اخک، پارسو يا عربي سوي دي ، صدو، فوفل، عمران، اچک، ليکل کيږي. حال دا چې پښتانه کورټ (ص، ف) نه وايي، دا خو د پارسو د ليکونکو ذوق، زموږ مخصوص نومونه پر بله خوا را اړولي دي. تر دې اندازې چې ځيني پښتانه ليکونکي لا هم د دوی تقليد کوي، او د خپلې ژبې ملي پانګې له لاسه باسي.

مثلاً : سبا چې د سحر په معنی دئ، صبا ليکي ، سلا چې په پښتو مشورې ته وايي، صلا ليکي چې په عربي بالکل بله معنی لري، او په پښتو صلا (ست) بولي.

داسې بارد تصرفات او سخيف لاس وهل زموږ په ژبه کښې ډېر سوئ دئ، ځيني کلمات سته چې خالص او سوچه پښتو دي، خو شکل ئې لکه د عربي يا پارسو د کلمو دئ، داسې کلمې هم زموږ اکثر ليکونکي اجنبي ګڼي او نه ئې اخلي او دا خپله ګرانه ملي پانګه له لاسه باسي، مثلاً : بشر په عربي بله معنی لري، خو په پښتو بدن ته وايي، مکان په عربي اسم ظرف دئ او بله معنی لري خو په پښتو (مکان) مبرز بولي، سال په پارسو کال ته وايي، په پښتو (سرمه ريګ) دي، مهال په پښتو وخت ته وايي او په عربي (محال) بله معنی لري، هک په پښتو حيران ته وايي، خو ځيني ليکونکي ئې (حق حيران) په غلط ډول عربي ليکي، (اسل) په پښتو سم او برابر ته وايي (کالي پر اسل دي) خو په عربي اصل بله معنی لري، راز په پښتو ډول ته وايي اما پارسو راز (سر) دئ، درد په پښتو قهر او غضب دئ د پارسو (درد) خو خوږو ته وايي.

رخت په پارسو کالو ته وايي په پښتو د کرهڼې يو شی دئ، ساخت په پښتوم چرم دئ خو په پارسو بله معنی لري، نبات عربي دئ هر شين کېدونکئ شی نبات بولي، مګر په پښتو نبات قند دئ.

داسي ډيري کلمې او لغات سته چي په نورو ژبو کښې همشکل لغات مونده کيږي ځني خلک دا خپل گرانبها غمي له لاسه باسي او نه ئې اخلي، پښتو ئې نه بولي، مگر د دې کښې مثال داسي دئ لکه سړی چي د پښتو (کال) کلمه نه اخلي، او وايي په انگليسي کښې هم کال Coll سته، يا دا چي د پښتو (پيل) يعنی آغاز په انگليسي (فير) پوري تړي.

زه له خپلو ښاغلو ليکونکو څخه دا هيله کوم چي دوی داسي يو شکله کلمات خپل وګڼي او دا لويي پانگي له لاسه ورنکي، او دوی هم د هغو زړو ميرزايانو په ډول هره پښتو کلمه او نوم پردو ژبو ته کش نه کي.

که نه وی تر لږ عمر وروسته به زموږ له لاسه د ژبي ښې کلمې او لغات ووزي، او اجنبي جوله به ومومي.

داسي کلمات زموږ د ژبي د زړه ټوټې دي نه ښايي چي موږ خپله ژبه د دغو خپلو ټوټو په پرېکولو بوره او وراره کو. زموږ ژبه ښائي، چي آينده علمي رنگ ومومي او په ادب کښې ارت ډگر ته راووزي، نو موږ هغه وخت ډېرو خپلو کلماتو او لغاتو ته اړيږو که اوس دغه خپل گران لغتونه له لاسه وباسو هغه وخت به بيا ډېر اړ او پردو ته لاس غځوونکي يو.

ښائي چي پښتانه ځلمي او ښاغلي ليکوال دې خواته بشپړه پاملرنه وکي، او خپلي ملي پانگي ښې خوندي کړي. (۴)

## لمن ليکونه


۱. وگورئ د ابوالفضل بيهقی تاريخ، او د عبدالحی گرديزی زين الاخبار
۲. وگورئ زين الاخبار د برلين طبع
۳. وگورئ طبقات ناصری د رايل ايشياتک سوسائتي د کلکتې طبع ص ۳۶۵ _ ۳۶۷
۴. کابل مجله، ۱۳۱۹ لمريز کال، ۱۰ مه گڼه، ۱ _ ۳ مخونه